# د رحمان بابا کليات د متن څېړنې د اصولو په رڼا کښې

## A Textual analysis of edited text of Rehman baba's Kuliaat

### (in the light of established principles of textual criticism)

ډاکټر عبدالله جان عابد*

## Abstract:

Rahman Baba's Deewan has been edited by various editors for multiple times. However the one Kuliaat edited by Dost Muhammad Kamil and Qalandar Mehmand are relatively more celebrated owing to the scholarly repute of its editors. In this paper the auther draw upon the established principles of textual criticism and in the light of these principles critique this Kuliaat. It was found that this edition meets the established criteria for editing to much extent. A few pitfalls have also been pointed out in the paper.

د رحمان بابا د ديوان د متونو د چاپ لړۍ ډېر اوږدۀ سوابق لري- د دغه ديوان د چاپ او نشر سلسله د نولسمې صدۍ نه شروع شوې ده او تر اوسه جاري ده- په دغه اوږده موده کښې د رحمان بابا د ديوان ګڼ متون په هندوستان، پاکستان، افغانستان او د دنيا په نورو هېوادونو کښې د چاپ ډګر ته راوتلي دي، چې ډېر پکښې بازاري متون دي او لږ پکښې د متن څېړنې د اصولو او روشونو په رڼا کښې مرتب شوي دي-

متن څېړنه يا تدوينِ متن يو مستقل فن دی، چې په انګرېزۍ کښې ورته Textual Criticism وئيلی شي- د تدوينِ متن اصلي مدعا د يو متن په حقيقي شکل کښې بازيافت وي چې د مصنف د منشا مطابق وي- د دې فن خپل لوازم او اصول دي- د متن د تدوين په لړ کښې چې متن پوهانو کومه وړومبۍ مرحله او درجه د مدون له پاره ښوولې ده،

* Incharge, Department of Pakistani Languages, Allama Iqbal Open University Islamabad

هغــه د يــو مــتن (د کــوم مــتن چــې تــدوين مقصــود وي) د نســخو، منــابعو او نــورو متعلقــه مــوادو لټون او حصــول دی، بيــا دوېمــه مرحلــه دمــتن تهيــې او د تصــحيح ده، چــې مــتن پوهــانويې درې طريقــې ښــودلې دي: انتقــادي، التقــاطي او قياســي- دغســې د مــتن تحقيــق، تنقيــد، حاشــيې، فرهنــګ(۱)، مقدمــه (د تــدوين شــوي مــتن پــه مقدمــه کښــې د اســتفاده شــويو نســخو تعــارف درج کــول لازم ګڼلــی شــوي دي) او پــه ضــروري مــواردو کښــې تخــريج (۲)، نسخه بدلې(۳)، تعليقات او اشار يې د تدوين نور لوازم دي-

زېــرِ بحــث کليــات دوســت محمــد خان کامــل او محتــرم قلندرمومنــد مرتــب کــړې دی چــې د دوي د درنــو نــامو لــه ســوبه د رحمــان بابــا دا کليــات د زيــات اهميــت او بــاور وړ ګڼلــی شــي- د مــتن د صــحت او تعــين پــه حوالــه د مــدونينو خــواري او زيــار دزيــاتې ســتائنې وړ دی- دغــه کليــات پــه ۱۹۸۴ء د چــاپ پــه کــالو ښائســته کــړی شــوی دی- د دغــه کليــات پــه نوټونــو کښــې د مــتن ډېــر ناســپړلي نکــات ســپړلی شــوي دي او دغســې د رحمــان بابــا د کــلام ډېــر هغــه اختلافــي قراتونــه پــه اول ځــل د دغــو نوټونــو پــه لمــن کښــې رانغښــتی شــوي دي، چــې تراوســه د رحمــان بابــا پــه چــاپي ديوانونــو کښــې نۀوو راغلــي- د خطــي منــابعو پــه حوالــه کــوم نــوی بازيافــت شــوی کــلام چــې د دې کليــات پــه مــتن کښــې اضــافه شــوی دی- هغــۀ د دې کليــات ارزښــت نــور ســېوا کــړی دی- خــو هــر کلــه چــې مــونږ د معاصــرې مــتن څېړنــې د روشــونو پــه رڼــا کښــې دغــه کليــات مطالعــه کــوؤ نــو ځينــې داســې نکــات پکښــې تــر ســترګو کيــږي چــې د مــتن څېړنــې د روشــونو ســره ســمون نــۀ خــوري- پــه لانــدينو کرښــو کښــې دغه نکتې په لنډو د بحث لاندې نيولې شي:

د مرتبينــو وينــا ده چــې: "د کــوم غــزل پــه ســر کښــې يــا کومــو شــعرونو تــه چــې "ق" ليکلــی شــوی دی، هغــه پــه چــاپي ديوانونــو کښــې نــۀ شــته"- (4) پــه مــتن کښــې د "ق" ســره ســره متعلقــه شــعرونو او غزلــو تــه نــومرې هــم ورکــړی شــوي دي، چــې وروســتو پــرې نوټونــه (حاشــيې) ليکلــي شــوي دي- پــه دغــو نوټونــو کښــې د نــوي بازيافــت شــوي کــلام د ماخــذ اطــلاع هــم شــته او نــور ضــروري وضــاحتونه او د نســخو اختلافــي قراتونــه هــم- خــو اوس هــر کلــه

چې مونږ په کلیات کښې د "ق" په علامه د راغلي کلام د تصدیق له پاره د رحمان بابا وړاندیني چاپ دیوانونه مطالعه کوؤ نو دا نتیجه تر ې رابرسېره کیږي چې د کلیات په ډېرو ځایونو کښې د "ق" په علامه راغلی کلام په خاص توګه د پښتو ټولنې کابل چاپ د رحمان بابا دیوان (۱۹۷۷ء) کښې راغلی دی(5)- خو متاسفانه د متن نوټونه (حاشیې) په دغه باب نۀ یواځې خاموشه دي، بلکې د حقائقو برعکس اطلاعات پکښې راغلي دي- په دې لړ کښې به اول هغو غزلو ته متوجه شو چې د کلیات په متن کښې د "ق" په علامه راغلي دي، چې پکښې دولس د کابل د ۱۹۷۷ء چاپ دیوان کښې موجودې دي- د نشاندهۍ له پاره دغه لاندې جدول وګورئ: (په جدول کښې اول د زېرِ بحث کلیات غزل نمبر، وروستو د متعلقه غزل مطلع او ورته مخامخ د کابل د ۱۹۷۷ء چاپ دیوان حواله ورکړې شوې ده)-

| غزل نمبر | د رحمان بابا کلیات (د غزلو مطلعې) | د کابل د ۱۹۷۷ء د چاپ دیوان مخ --- غزل نمبر |
|---|---|---|
| ۳۰/۳۰ | هر ګفتار هره وېنا چې څوک عبث کا<br>تر عبث وئیل دا بِه دي چې ئې بس کا | ۲۸۲ - ۳۸۲ |
| ۳۲/۳۲ | دلربا کۀ د خپل حسن مخ عیان کا<br>ډېر بې غمه جمع زړونه به لرزان کا | ۲۸۳ - ۳۸۳ |
| ۷/۱۰۹ | کۀ په بخت کم بخته نۀ وی سوخته دل څوک<br>بې حضور به له تا ولی بیلیدل څوک | ۲۸۳، ۲۸۴- ۳ |
| ۹/۱۲۴ | سرمې په کار نۀ دی چې ئې ستا تر سر قربان کړم<br>زر راخخه نشته چې ئی ستا په پښو ډېران کړم | ۹۵،۹۲ - ۱۲۸ |
| ۳۱/۱۸۷ | شمع د دلبر ستر ګې عاشق پر پروانه<br>ځان پر خپل جلیا کا شي ئې خونه ویرانه | ۱۷۰، ۱۷۱ - ۲۲۹ |
| ۳۹/۱۹۵ | ای د نوس او د حرص په هوا لیوه<br>په ظاهر صورت فرښته په معنٰی دیوه | ۲۸۵ - ۳۸۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳۶ - ۱۷۹ | په دنیا کښې مخ د یار دی نور څۀ نشته<br>هر چې دی د یار دیدار دی نور څۀ نشته | ۴۲/۲۰۲ |
| ۸۲ - ۲۸۴،۲۸۵ | هر چې خپلې مینې خوار کړ خوار ئې مۀ ګڼه<br>عشق د رحمت ابر دی اغیار ئې مۀ ګڼه | ۲۲/۲۱۸ |
| ۲۲۱ - ۲۹۸ | څو به هسې ازادي په دا جهان کړې<br>چې خبرې به د سر او د سامان کړې | ۴۸/۳۳۱ |
| ۲۴۲ - ۳۳۹ | یا دا ستا چشم (و) ابرو وینم په خواب کښې<br>یا مستان دي ووده شوي په محراب کښې | ۵۲/۳۳۹ |
| ۲۸۷ - ۳۸۹ | مست په هغه مخ یم چې مستانې لرې سترګې<br>بې توري بې تېغه قاتلانې لري سترګې | ۲۲/۳۴۹ |
| ۲۸۷ - ۳۹۰ | کۀ په قطع د تمام جهان ملک ئې<br>چې له ځانه خبر نۀ ئې لاهلک ئې | ۷۲/۳۵۹ |

د غزلو د نشاندهۍ نه وروستو اوس به په لاندې جدول کښې یو اړخ (ښي اړخ) ته د "ق" په علامه هغه شعرونه په ګوته کولی شي، د کومو ماخذ چې یواځې له قلمي نسخو څخه بیان شوی دی او مخامخ به ورته د کابل د ۱۹۷۷ء چاپ دیوان هغه حوالې درج کولی شي، د کومو په اساس چې دغه متعلقه شعرونه په متن کښې ملاحظه کېدلی شي-[د دغو شعرونو په بابت د کلیات د مدونینو وینا ده چې دغه شعرونه په چاپ دیوانونو کښې نشته]

| د کابل د ۱۹۷۷ء چاپ دیوان | د رحمان بابا کلیات | |
|---|---|---|
| ۳۳ مخ، شپاړسم شعر | څۀ و بت وته سجده څۀ و دنیا ته<br>بت پرست دی پرستار د دې دنیا | (۹:۵۵) |
| ۳۴ مخ، اتم شعر | هر سړي لره چې ورشي ځنې درومي<br>ما لیدلی دی رفتار د دې دنیا | (۸:۵۲) |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۰ مخ، یوولسم شعر | که د پیر په خپل مرید باندې عرض وي<br>هېڅ ئې نهٔ وي په مرید باندې وقار | |
| ۹۰ مخ، پنځلسم شعر | په یوه ساعت باران بیا شین اسمان شي<br>لکه ابر د پسرلي د پشکال | (۷:۱۲۵) |
| ۹۲ مخ، اتم شعر | دا مقام دی د هغو رنګه عالمو<br>چې هېڅ نهٔ ویني په سترګو سود او زیان خپل | (۳:۱۲۷) |
| ۹۲ مخ، نهم شعر | افرین د عاشقانو په همت شه<br>چې ورتېر تر سرومال دي په جانان خپل | (۵:۱۲۷) |
| ۱۲۸ مخ، نهم شعر | څو په دا جهان اوبه له تنه نهٔ شي<br>په قیامت به دې سینه نهٔ شي سېرابه | (۸:۱۷۷) |
| ۱۴۳ مخ، یولسم شعر | جدائي به مې یو دم قبوله نهٔ کړه<br>که چا مرګ او بېلتون ښنې وی په غوره | (۴:۱۸۴) |
| ۱۲۰مخ، پنځلسم شعر | نفس شېطان سړی و کفر ته وباسي<br>رحم فهم په ځان وکړه کافر مهٔ شه | (۲:۲۲۲) |
| ۱۲۰ مخ، دولسم شعر | څو به وي تندرسته دا زمونږه بنا سته<br>زهٔ ئې درمانده یم په پښتۍ په اخاړهٔ | (۲:۲۳۴) |
| ۱۲۱ مخ، دیارلسم شعر | عشق د یار په راته وچولي ولجه دی<br>خو چې وچولی ئې غوټه کړ تاوان شهٔ | (۱۰:۲۴۴) |
| ۲۰۲ مخ، یوولسم شعر | معشوقې په عاشقانو خود پوهیږي<br>دلته څهٔ د عاشقۍ نخښې د ښوو دي | (۸:۲۲۱) |
| ۲۳۱ مخ، یوولسم شعر | چې هر ګز په عمر نهٔ وي چرې شوی<br>د هغو ناشدنیو امیدوار شي | (۲:۲۷۱) |
| ۲۳۱ مخ، دولسم شعر | هلکانو غوندې پاس په کوټه زغلي<br>خو چې دوه قدمه واخلي نور حصار شي | (۳:۲۷۱) |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳۱ مخ، دیارلسم شعر | په زحمت د تن له مالګي هم پرهېز کا<br>هغه نه کا چې له نهي پرهېزګار شي | (۴:۲۷۱) |
| ۲۳۱ مخ، څوارلسم شعر | د ژوندون په تېرېدو ئې نظر نهٔ وي<br>چې دا ګنج به مې له لاسه تار په تار شي | (۵:۲۷۱) |
| ۲۲۳ مخ، څوارلسم شعر | کهٔ د یار له لاسه اور په یار بلېږي<br>هغه اور و عاشقانو ته ګلزار وي | (۹:۲۹۸) |
| ۲۷۴ مخ، اووم شعر | و کوم کوم ته به ادراک د پاړو رسي<br>هر وېښتهٔ ئې د کاکل شه منګري | (۷:۳۰۳) |
| ۱۸۲ مخ، دوېم شعر | محتسب په رقص ګډشه پای کوب کا<br>صوفي پروت په مېخانه مست و خراب دی | (۲:۳۱۹) |
| ۱۸۲ مخ، څلورم شعر | په رقیب باندې غفلت راغی اودهٔ شهٔ<br>یار پلو له مخه واخست بې حجاب دی | (۳:۳۱۹) |
| ۲۴۸ مخ، لسم شعر | عشق د عقل په کوڅه استوګنه نهٔ کړه<br>چا موندلی نهٔ دی یار په دا دیار کښې | (۳:۳۲۳) |
| ۲۴۸ مخ، څوارلسم شعر | و هغو چې خدائی حق بیني سترګې ورکړې<br>د یوسف تجلې ویني په دیوار کښې | (۲:۳۲۳) |
| ۲۷۵ مخ، اتم شعر | خپل قسمت په سرې کاندي هر چې کاندي<br>د چا بخره خاموشي د چا ناري شوې | (۲:۳۷۲) |
| ۲۷۰ مخ، لسم شعر | بد ئې واړه په ښهٔ ونسه رحمانه<br>چې پای بند د یار په مینه یا په مرور ئې | (۵:۳۷۸) |

د کلیات په ضمیمه نمبر ۲ (6) کښې د کابل چاپ دیوان هغه شعرونه ورکړی شوي دي، کوم چې د زېرِ بحث کلیات په استفاده شوو قلمي نسخو کښې نهٔ وو راغلي، خو دغه ضمیمه نیمګړې ځکه ده چې د کلیات په متن کښې نور داسې شعرونه هم شته، چې متن ئې یواځې له

چاپي نسخو څخه بیان شوی دی، خو د ضمیمې په ځای په متن کښې راوړی شوي دي- لاندې جدول کښې ئې څو مثالونه وګورئ:

| نوټ (حاشیه) | مخ: نوټ نمبر | شعر | شعر نمبر | غزل نمبر |
|---|---|---|---|---|
| دا شعر یوه قلمي نسخه کښې هم نشته | (۲:۴۴۸) | د چکنا چکنی بېلتون په نیمه شپه وي<br>ستا زما په حال غماز شه د سبا مخ | ۹ | ۱/۲۳ |
| دا شعر یوه قلمي نسخه کښې هم نشته | (۱۴:۴۹۱) | چې زما د یار تر مېنځه جدائي کا<br>کانې پرېوتی په خونه د بدانو | ۷ | ۲/۱۵۰ |
| دا شعر هم قلمي نسخو کښې ونۀ موندلی شو | (۱۵:۴۹۱) | کۀ مې چرې خواست د خدائی په در قبلېږي<br>سوال به زۀ د عمر کړم د مهو شانو | ۸ | ۲/۱۵۰ |
| قلمي نسخې دا شعر هم نۀ لري | (۱۲:۴۹۱) | سور پېزوان دې په سرو شونډو هسې زېب کا<br>لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو | ۹ | ۲/۱۵۰ |
| یوه قلمي نسخه کښې هم دا شعر نشته | (۲۰:۴۹۱) | دواړه لېچې دې وکښلې مصری توری<br>در پوهېږم سر به پرېکړې د خوارانو | ۱۳ | ۲/۱۵۰ |
| دا شعر په یوه قلمي نسخه کښې هم نشته | (۵۵:۵۷۳) | درخانی په سل غمونو خدائی اخته کړه<br>زۀ به ولې له تا زار کوم کۀ ګورې | ۷ | ۷/۲۹۰ |
| د چاپي نسخو دا مطلع په یوه قلمي نسخه کښې هم نشته | (۲۵۵:۵۸۲) | هر نګار چې بې وفا وي نګار نۀ دی<br>په ګلزار کښې چې ګل نۀ وي ګلزار نۀ دی | ۲ | ۳۱۹/ ۳۲ |
| دا شعر یوه قلمي نسخه کښې هم نشته | (۳۳۴:۵۹۱) | تۀ چې ما منع کوې د یار له لوري<br>کشکی باد د سحر منع په بوستان کړې | | ۳۳۰/ ۴۷ |

د نسخه بدلو په حواله هم د کلیات نوټونه د نیمګړتیاؤ ښکار دي، ځکه چې د متن ډېر اختلافي قراتونه په نوټونو کښې د اندراج څخه پاتې شوي دي- په دې لړ کښې په متن کښې چې د کومو چاپي نسخو نه استفاده شوې ده، له هغو څخه د یو څو نسخو مثالونه په لاندینو جدولونو کښې وګورئ:

| دیوان عبدالرحمٰن د ادارۀ اشاعت چاپ(۴) | د رحمان بابا کلیات |
|---|---|
| (۲:۲۸) په روئ | (۲:۸الف) کل جهان د محمد په مخ پېدا شه |
| (۲:۴۳) د محراب | (۵۹: ۱۰ب) نه بل هسې رنګ امام شته نه محراب |
| (۱۸:۴۵) په تالاش او په تدبیر کله موندی شي | (۲۳: ۱الف) په تدبیر او په تالاش کله مونده شي |

| | |
|---|---|
| (۵:۷۲) دا جهان د رهروانو دی رباط | (۵:۱۰۷ب) دا جهان دی د رهرویو یو رباط |
| (۲:۹۰) ګویا برق دی درخشان | (۳:۱۵۱ب) ګویا برق دی دا جهان |
| (۹:۱۱۰) چې په ما به پېښ څۀ حال شي | (۱۲:۲۸۰ب) چې زمان لره څۀ حال شي |
| (۷:۲۱۳) تلخ و تریخ | (۵:۳۳۰الف) ځنکدن کۀ هر څو تریخ و تلخ وایه شي |
| د بېنوا چاپ دیوان (۵) | د رحمان بابا کلیات |
| (۹:۱۱۲) نشته بیان | (۱۳:۱۵۱ب) چې ئې هېڅ نه شي بیان |
| (۱۲:۷۴) خوښ و خور وي | (۲:۱۰۰الف) هغه یار کۀ په خپل ناز خوښ و خرم دی |
| (۱۲:۷۲) له یاره | (۳:۱۰۵الف) د مجاز له اهله طمع د خیر مکړه |
| (۴:۱۰۱) ووینم | (۸:۱۴۸الف) چې ئې قدوقامت نه وینم په سترګو |
| (۷:۱۹۱) واړه فاني دي | (۳:۲۲۰الف) د دنیا چارې همه واړه کمی کا |
| (۸:۵۲) چې څوک غوث کاندي څوک قطب څوک اوتاد | (۸:۷۴ب) چې څوک قطب کا څوک غوث کا څوک اوتاد |

د متن څېړنې په کارونو کښې د متن مقدمې او فرهنګ ته اساسي اهمیت حاصل وي- د متن څېړنې ټولو عالمانو مقدمه د یو مدونه متن د پاره لازم ګڼلې ده- د متن په مقدمه کښې مدون/ مدونین د متن د نسخو تعارف، د متن ایډېټ کولو طریقه کار او نور ضروري امور بیانوي او په فرهنګ کښې د ګرانو لفظونو او ترکیبونو معنې او مفاهیم درج کوي- د رحمان بابا دا زېربحث کلیات له مفصلې علمي مقدمې او فرهنګ څخه محروم دی- اوس کۀ څۀ هم د مقدمې او فرهنګ په باب محترم قلندر مومند په خپلو ابتدائي خبرو کښې وئیلي دي چې:

"د طباعت په سلسله کښې دومره ډیل شوی دی، چه زۀ د مفصلې مقدمې د لیکلو په عذر دا کار نور نۀ شم ځنډولی- مرحوم کامل صاحب د کتاب د پاره سریزه لیکلې وه، خو بیا هم د هغوي فېصله دا وه چه دا سریزه دِ مختصره کړی شي او هر کله چه د دې سریزې په اختصار هم وخت لګي نو زۀ دا خطره هم نۀ اخلم- دا سریزه زه د رحمان بابا په حقله د خپلې څېړنې سره د چاپ کولو په نیت د ځان سره ساتم- هم دغسې د ښاغلي کامل مرحوم لیکلې د رحمان بابا د دیوان د فرهنګ نظرثاني به هم وخت اخلي او دا به هم انشاء الله تعالی د رحمان بابا په حقله د تنقیدی مقالو سره چاپ کړی شي"- (9)

خو دا قسمه عذرونه د متن څېړنې روښونه نهٔ قبلوي- مقدمه او فرهنګ د تدوين اساسي لوازمات ګڼلی شي او له دې دواړو څخه بغېر د تدوين کارونه بهر حال نیمګړی وي-

د کليات د متن د تهيې په لړ کښې چې له کومو قلمي او چاپي نسخو څخه استفاده شوې ده په هغو کښې په خصوصي توګه د قلمي نسخو کوائف (متني مواقف او معارض) (10). په کلي ډول نیمګړي او په ځنو ځايو کښې د نيشت برابر دي- د مثال له پاره د کليات ۴۱۲ او ۴۱۳ مخونه ملاحظه کړئ په کومو کښې چې د کليات د قلمي او چاپي نسخو کتابيات راغلي دي-

په ضروري موادو کښې د متن څېړنې په کارونو کښې د متن تخريجي امورو ته پاملرنه لازم ګڼلی شوې ده- د زېر بحث کليات په متن کښې ډېر شعرونه داسې دي چې د تخريج تقاضه کوي، څهٔ به ښهٔ وه کهٔ په نوټونو کښې د تخريج امورو ته هم توجه شوې وې-

د رحمان بابا د کلام دا تدوين شوی کليات کهٔ څهٔ هم د رحمان بابا د ديوان د نورو چاپي مدونه متونو په پر تله ځانګړې خوبۍ لري او په خصوصي توګه د متن صحت او تعين کښې ئې خورا ډېر دقت شوی دی، خود پاسني بحث په رڼا کښې بيان شوي کموتونه او تدويني نيمګړتياوې پکښې ليدلی کيږي- د مثال په توګه په متن کښې د استفاده شوو نسخو مکمل تعارف پکښې نهٔ دی شوی، په ځنو نوټونو (حاشيو) کښې ئې د حقائقو برعکس اطلاعات ورکړی شوي دي، د متن تخريجي امور پکښې هم له پامه غورځولی شوي دي او مقدمه او فرهنګ هم نهٔ لري- دغه ټول امور داسې دی چې معاصره متن څېړنه ئې غوښتنه کوي-

***

# حوالې او حاشیې

(1) فرهنګ هم د تدوین لازمه ګڼلې شي- د کلاسیکي متونو فرهنګ د عام لغت او فرهنګ څخه بېخي مختلف وي- په دغه فرهنګ کښې یواځې د متن د ګرانو او متروکو لفظونو، ترکیبونو او محاورو معنې او مفهوم د متن دَ سیاق و سباق له مخه ورکول کیږي- متن پوهانو په دې حواله دا تاکید کړی دی چې د یو کلاسیکي متن په فرهنګ کښې یواځې د یو لفظ، ترکیب او محاورې هغه معنیٰ او مفهوم ورکول پکار وي کوم چې ترې په متن کښې مقصود وي-

(2) د تخریج لغوي معنې "بیرون آوردن، بتفکر بیرون آوردن "ده، خو د تدوین او تحقیق په اصطلاح کښې تخریج هغه عمل ته وئیلی شي، چې د هغې په وسیله او ذریعه په متن کښې د بهرنو شیانو نشان دهي کولی‌شي- مونږ ته معلومه ده چې د مشرقي ژبو په ډېرو کلاسیکي متونو کښې د قرآنِ پاک ایتونه، حدیثونه، مقولې، عربي، فارسي بېتونه وغېره راوړی شوي وي، چې مقصود ئې د متن په وقعت، اِستناد او دلچسپۍ کښې اضافه کول وي-

(3) د تدوین په لوازمو کښې یوه لازمه د اختلاف نسخ ښودلوده، چې په انګریزۍ کښې ورته variantsاو په پښتو کښې ورته "نسخه بدلې "یا "نسخه بدلونه "وئیلی شي، خو د variants په ارتباط ورته ځینې معتبر متن پوهان "ویارنټونه "هم وائي - که دیو متن د تهیې او تصحیح په وخت د یو نه زیاتې نسخې په لاس کښې وي، نو بیا د انتقادي یا التقاطي مېتود له مخې د هغو نه متن مرتب کولی شي، په دغه صورت کښې د معتبرې نسخې عبارت په متن کښې، او د نورو نسخو اختلافي قراتونه په حاشیو کښې ورکولی شي-

(4) کامــل، دوســت محمــد خان او قلندر مومنــد ، د رحمــان بابــا کلیــات، پېښور، د چاپ زی، ۱۹۸۴، مخ :د.

(5) د رحمــان بابــا د دیــوان دغــه مــتن د څلــورو چــاپي او شپاړســو قلمــي نســخو، د دوړن د منتخبــاتو او یــو مــائیکرو فلــم لــه مخــې تیــار کــړی شــوی دی، چې سریزه پرې حبیب الله رفیع لیکلې ده-

(6) کامل، دوست محمد خان او قلندر مومند ، د رحمان بابا کلیات، مخ :۴۰۷

(7) دا دیــوان د زېــرِ بحــث کلیــات پــه اســتفاده شــوؤ ماخــذونو کښــې شــامل دی، چــې پــه وړومبــي ځــل اداره اشــاعتِ ســرحد پــه ۱۹۴۹ء کښــې د مولاناعبــد القادر د ســریزې ســره چــاپ کــړی دی- پــه ۱۹۲۰ء او ۱۹۲۲ء کښــې په دوېم او درېم ځل (په ترتیب سره) هم، دغــه دیــوان د اداره اشــاعتِ ســرحد لــه خوا خپور شوی دی-

(8) دا دیــوان هــم د کلیــات پــه اســتفاده شــوؤ چــاپي نســخو کښــې شــامل دی، چــې محتــرم عبــد الروف بېنــوا د درېــو قلمــي نســخو لــه مخــې مرتــب کــړی دی او په ۱۹۴۹ ء کښې د چاپ ډګر ته راوتلی دی-

(9) قلندر مومند (هوالناصر)، د رحمان بابا کلیات، مخ :ب

(10) پــه متنــي معارضــو کښــې د خطــي نســخې ظــاهري هیئــت یعنــي تقطیــع (قطــع، کچــه، ســائز)، مســطر، د مخونــو شــمېر، امــلا، کاغــذ، ســیاهي، د کتابــت دود وغېــره د بحــث لانــدې نیــولی شــي- کــه نســخه د کــومې کتــاب خــانې ملکیــت وي نــو بیــا د انــدراج نــومره ښــودل هــم پــه دې زمــره کښــې راځــې- پــه متنــي مواقفــو کښــې د نســخې مشــمولات یعنــي اضــافه، د بېتونــو شــمېر، حاشــیې (کــهٔ موجــودې وي)، د تــالیف یــا تصــنیف زمانــه، د کتابــت نېټــه، تــر قیمه وغېره بیانولی شي-